**بسم الله الرحمن الرحيم**

# په اسلام کې د اجارې حکم

**(ژباړه)**

له عبدالله بن عمر رضی‌الله عنه څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل:

**«أَعْطُوا الْأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ»**

***ژباړه:*** *د اجیر (کارګر) اجره د هغه د خولو تر وچېدو وړاندې ورکړئ.*

د سنن ابن ماجه په شرحه کې راغلي دي:

رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فرمايي: (**أَعْطُوا الْأَجِيرَ**) یعنې غوره دا ده چې د کارګر د کار له پای ته رسـېدو سره سـم د هغه اجره ورکړل شي. همدارنګه فرمايي: (**قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ**) یعنې وړاندې تر دې چې د کار له امله رامنځته شوې خولې وچې شي. اجاره د عوض په بدل کې پر منفعت عقد دی او پر درې ډوله ده:

**لومړی ډول:** هغه اجاره ده چې قرارداد یې له شیانو څخه د ترلاسه کېدونکې ګټې پر اساس کېږي، لکه: د کور، حیواناتو، د لېږد رالېږد وسایلو او داسې نورو شیانو اجاره کول.

**دویم ډول:** هغه اجاره ده چې قرارداد یې له کار څخه د ترلاســه کېدونکې ګټې پر اســاس کېږي، لکه د ځانګړو کارونو د ترسره کولو لپاره د کسـبګرو او صـنعتکارانو ګومارل. یعنې د هغې ګټې پر اسـاس قرارداد کېږي، چې د کار له ترسره کولو څخه لاسته راځي، لکه د رنګمال، آهنګر، نجار او داسې نورو ګومارل.

**درېیم ډول:** هغه اجاره ده چې قرارداد یې پخپله د شــخص له نفس څخه د ترلاســه کېدونکې ګټې پر اســاس کېږي؛ لکه د خدمتګار، کارګر او داسې نورو ګومارل.

بخاري رحمه الله روایت کړی چې: په شریعت کې د اجارې ټول ډولونه روا دي. الله ســبحانه وتعالی په دې اړه فرمايي:

**﴿وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا﴾** [زخرف: 32]

***ژباړه:*** *ځینو کسانو ته مو پر ځینو نورو لوړې درجې ورکړې، ترڅو په دوی کې ځینې کسان ځینې نور د کار لپاره ونیسي (یو او بل ته خدمت وکړي).*

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿**فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ**﴾ [طلاق: 6]

***ژباړه:*** *که چېرې هغوی (دې ته لېواله شي، چې له بېلتون وروسته ستاسو اولادونو ته) شیدې ورکړي، نو اجره یې پر خپل وخت ورکړئ.*

بخاري روايتوي:

«**أنّ النبيَ ﷺ والصِدَّيقَ استأجَرَا رجلاً مِن بنيْ الدِّيْلِ هادِياً خِرِّيتاً**» (بخاري: 2264)

***ژباړه:*** *رسول الله ﷺ او ابوبکر رضی الله عنه له بني الدیل څخه یو سړی د دښتو د لارښوونې لپاره (چې د هر ځای او سیمې په اړه یې معلومات لرل) مزدور نیولی و.*

**ژباړن: صهیب منصور**